Cour
Pénale
Internationale

International
Criminal
Court

# ځوابونه او پوښتنې

د افغانستان د اسلامي جمهوریت وضعیت
ICC-02/17

ICC-PIOS-Q&A-AFG-00-01/19_Pashto
Updated: 15 April 2019

## د نړیوالې جنايي محکمې قاضیانو د افغانسنان د وضعیت په اړه د پلټنو پیلېدنه رد کړه

### قضايي هیئت څه پرېکړه وکړه؟

د ۱۳۹۸ کال د حمل میاشتې په ۲۳ نېټه  چې د ۲۰۱۹ میلادي کال د اپریل د ۱۲ نېټې سره سمون لري، د نړیوالې جنایي محکمې دوهم مقدماتي قضايي هیئت د ټولو رایو په موافقت سره د نوموړې محکمې د څارنوال هغه غوښتنه رد کړه چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت په خاوره د اِدعا شوو بشر ضد جنایتونو او جنګي جنایتونو په هکله يې د پلټنې اجازه غوښتې وه.  قاضیانو دا پرېکړه وکړه چې د افغانستان د وضعیت په هکله به دا اوسمهال د پلټنو پیل عدالت ته د رسیدو په هکله ګټور نه وي. نوموړی قضايي هیئت له قاضي  انتوينې کیسیا-مبي میندوا، چې خپل وَرته نظر به جلا ضمیمه کړي، قاضي توموکو اکېن او قاضي روساریو سلویتور اَیتالا څخه تشکیل شوی دی.

### نوموړي قضايي هیئت د څارنوال غوښتنه ولې رد کړه؟

د ۱۳۹۶ کال د عقرب میاشتې پر ۲۹  چې د ۲۰۱۷ میلادي کال د نومبر د ۲۰ سره سمون لري، څارنوال د مقدماتي محکمې له قاضیانو څخه د اجازې غوښتنه وکړه تر څو د هغه اِدعا شوو جنایتونو په هکله پلټنې او تحقیقات پیل کړي کوم چې د افغانستان په خاوره د ۱۳۸۲ کال د ثور د ۱۱ نېټې راهیسې چې د ۲۰۰۳ میلادي کال د مې د میاشتې د ۱ نېټې سره سمون لري، پېښ شوي وي؛ یا نور وَرته اِدعا شوي جنایتونه کوم چې په افغانستان کې د وسلوالې جګړې سره تړاو لري او د روم د تړون د غړو هیوادونو په خاوره د ۱۳۸۱ کال د سرطان میاشتی د ۱۰ مې نېټې راپدیخوا چې د ۲۰۰۲ میلادي کال د جولای د ۱ نېټې سره سمون لري، ترسره شوي وي.

قضايي هیئت هغه معلومات چې د څارنوال له لوري ورکړل شوي وو په دقت سره وکتل او توجه يې وکړه چې د څارنوال په غوښتنه کې معقول دلائل شته چې وه انګیرل شي داسې جنایتونه کوم چې د نړیوالې جنايي محکمې تر قضايي صلاحیت لاندې راځي په افغانستان  کې ترسره شوي او دا چې ځینې قضیې به د محاکمې لپاره محکمې ته د قبولتیا وړ وي. خو البته، نوموړي قضايي هیئت دې ته پر کتو چې له ۲۰۰۶ میلادی کال راهیسې کوم وخت چې لمړنی څېړنې پیل شوې زیاته موده تیره شوې او د افغانستان په سیاسي اوضاع کې بدلونونه راغلي دی، او د څارنوال  سره تر اوسه د موجوده همکاریو کمښت او په غالب ګمان کله چې د څېړنو اجازه ورکړل شي نو دا همکاری به لا نورې هم کمې شي، هغه لاملونه دي چې د پلټنو په بریالیتوب کې او د عدلي تعقیب لپاره خنډ ګرزي؛ او همدا شان محکمې ته دا اړتیا هم شته تر څو د خپلو منابعو کارولو ته په هغه فعالتونو کې ترجیح ورکړي چې د بریالیتوب احتمال يې ډېر وي.

دا قضايي هیئت باور لري، سره له دې که د قضایې صلاحیت او محکمې ته د قبولتیا په هکله ټول اړین شرائط پوره هم شي، د افغانستان د وضعیت اوسني حالات داسې دي چې د پلټنو او عدلي تعقیب بریالیتوب خورا محدود پکښې ښکاريږي. نو له دې کبله، یوازې لږ امکان شته چې پلټنې او تحقیقات به هغه اهداف ترلاسه کړي چې د متضررینو او قربانیانو لخوا یاد شوي وو کوم چې د پلټنو غوښتونکي دي. نو پر دغه اساس قضايي هیئت دې پایلې ته ورسید چې د افغانستان د وضعیت په هکله پلټنې په اوسني پړاو کې د عدالت په ګټه نه دي نو ځکه يې د څارنوال غوښتنه د پلټنو د پیلېدو په هکله رد کړه.

### آیا قضايي هیئت د متضررینو نظریاتو ته توجه کړې ده؟

قضايي هیئت پر دې خبر دی چې د متضررینو او قربانیانو د ټولو ۶۹۹ اظهاروَنو څخه چې ترلاسه شوې دي، ۶۸۰ د پلټنو هرکلی کړی دی تر څو د جنایتونو مسئول کسان محاکمې ته وړاندې شي، د نورو جنایتونو مخنیوی وشي او حقیقتونه را برسیره شي.  خو د پریکړې مطابق، "دغه قضايي هیئت باور لري، سره له دې که د قضایې صلاحیت او محکمې ته د قبولتیا په هکله ټول اړین شرائط پوره هم شي، د افغانستان د وضعیت اوسني حالات داسې دي چې د پلټنو او عدلي تعقیب بریالیتوب خورا محدود پکښې ښکاريږي. نو له دې کبله، یوازې لږ امکان شته چې پلټنې او تحقیقات به هغه اهداف ترلاسه کړي چې د متضررینو او قربانیانو لخوا یاد شوي دي کوم چې د پلټنو غوښتونکي دي یا هم غواړي مثبته ونده پکښې ولري. دا مهمه ده چې په یاد ولرو چې یوازې د ځانګړو قضیو متضررینو ته به امکان شته وی چې د محاکمې په اجرائاتو کې يې پر خپل ګډون سره مطلوب رول لوبولی وی؛ البته د پلټنو د اجازې په صورت کې هم، د دا ډول قضیو په نه شتون کې به دغه مطلوب رول هیڅکله هم عملي نه شي؛ او د متضررینو توقعات به یوازې د آرزوګانو په ډول پاته شي. او همداسې، د دې پرځای چې د متضررینو د امیدونو او آرزوګانو درناوی وشي او عدالت لاسته راوړل شي،  پایله به د محکمې په اړه خپګان او ممکن دښمني را منځته کړي او له دې کبله به په هغه وړتیا او اعتبار منفي اغیز وکړي کوم چې محکمه يې باید ولري تر  څو د تاسیس اهداف لاسته راوړی شي"

### آیا کیدلي شي د دغه پرېکړې په هکله د استیناف غوښتنه وشي؟

د څارنوال دفتر اعلان وکړ چې دوی به نوموړې پریکړه او ورسره اړوند تأثیرات نور هم وڅیړي او بیا به پر ټولو حقوقي لاروچارو غور وکړي.

www.icc-cpi.int | This is not an official document. It is intended for public information only. International Criminal Court: Maanweg, 174; 2516 AB, The Hague, The Netherlands. Postal address: Po Box 19519; 2500 CM, The Hague, The Netherlands. Tel. + 31 (0)70 515 8515; Fax. +31 (0)70 515 8555. YouTube: www.youtube.com/IntlCriminalCourt; Twitter: www.twitter.com/IntlCrimCourt; Flickr: www.flickr.com/photos/icc-cpi